پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

## داکتر عبدالله عبدالله ولی با ید دخپل
## انتخاباتی ماتی په اړه هک اوپک نشي ؟

په دی کی هیڅ شک نشته اوهغه داچی داکتر« عبدالله عبدالله » نن د افغانستا ن ددولت په دری گونو متشکله برخو یعنی په « مجریه مقننه او قضا یه» کی ډ یر اوچت واک اونفوذ لری که چیری نفوذ نه لرل نو هغه کله کولای شو چی د شپي د خوا دخپل پلویا نو سره په گډه د افغانستان د پولیسو په همکاری اود پولیسو د ترانسپورتی وسا یلو په گټه اخیستو سره دکابل دښارپه واټونواوپه سرکونو ووځی اوپه لوړآوازسره ووایی چی زه دافغانستان د جمهوری ریاست گټونکی اوجمهورریس یم بی له دی چی د دولت قوانین اوامنیتی مقرارات مراعا ت کړی او یا بی له دی چی د انتخا با تو د مستقل کمیسیون پریکړی او دانتخاباتو د گټونکی اونه گټونکی داخری نوما ند جمهور ریس اعلان کړی ځا ن ریس جمهور وگڼی اویا داچي په رڼا ورځ کی دلوی جرگی خیمی ته د خپل پلویا نو سره یوځای په تحصن شروع کړی او د حامد کرزی عکس دخیمی ددیوال څخه ښکته کړی اوبیا تر پښو لاندی ټوټی ټوټی کړی دا پخپله د هغه قدرت اوتوان نمانیده گی کوی که نه د اخو خپله بغاوت اوددولت دقوانینو څخه سرکشی دی ، هوکی هغه خود دنفوذ اود قدرت خاوند دی او هغه داچی دافغانستان ددولت دجمهورریس لمړی معا ون یونس«قانونی» ، د افغانستان د دفاع وزیر ښاغلی بسم الله «محمدی» دافغانستان دباندنیو چارو وزیر شاغلی «مقبل» د مزارشریف دولایت والی ښاغلی «عطا محمد نور»،مخکینی دامنیت وزیر ښاغلی امرالله« صالح »او په لنډه توگه دشور د نظار اود جمیعت پوری تړلی غړی دافغانستان دټولواداروپه سر کی قرارلری یا داچی هغه پخپل څنگ کی د تا ریا کو لوی ډ یلراو قوماندان « گل اغا شیروزی » هم لری سربیره پرهغه ، عبدالله عبدالله هغه کس دی چی فهیم «قسیم » یونس «قانونی» سره په گډه دامریکی متحده ایالاتو ته دپیسو په بدل اجازه ورکړ چی پرافغانستان باندی د(B-52) الوتکوبمباری وکړی یا هغه سری کوم چی دهغه شاته یوه لوی اومتجرب څلویښت کلن حزب (جمیعت) ولاړ دی اود هغه څخه ملاتړ کوی یا عبدالله عبدالله هغه کس دی چی د خپل وزارت خارجه د مودی په د نده کی دغربی هیوادونو سره له نژدی پیژند گلوی ترلاسه کړ او ډیری غربی دوستان پیدا کړ یعنی عبدالله عبدالله هغه کس دی چی هم اقتصادی (ډیر پیسی ) هم سیا سیی «دولتی» هم تبلیغاتی « تلویزیون ورځپاڼي» هم جنگی «شبهه نظامیان ـ پاټکیان » اوهغه لاڅه چی ځنی بی خصلته ،غل ،بی مروت اوبی غیرت پرچمی جنرالان او مزدوران لری چی د پیسو په مقابل کی خپل ارما نو نه خرڅ کړل . نوداسی یو کس ولی په انتخاباتو کی پا تی اوناکام شی ،حال داچی د هغه

رقیب یعنی ښاغلی «غنی احمدزی » کوم چی یو بی پری سړی او بی له دی چی کوم حزب ،سازمان ، یا کوم جمیعت ولری اویا داچی داقتصاد له پلوه کوم قوی اقتصادی بنیه ولری یا داچی په دولت کی ډیرنامی ملاتړ ولری یا داچی ترخپل شا په اردو کی مشخص حلقی ولری یا داچی دشبهه نظامیا نو کوم ټولګی یا غونډ ولری نو دعبدالله عبدالله اودهغه دپلویانو په نظر څه حق لری چی دافغانستان د جمهوری ریاست په ټولټاکنو کی جمهور ریس شی ، یا هغه څه حق لری چی په انتخاباتوکی تقلب وکړی که تقلب وکړی خو مونږ تقلب کولای شو چی دافغانستان اکثر والیان ، قوماندانان ، دکا بینی لوړ پوړی وزیران مونږ سره دی ، یا داچی مونږ ډیر پیسی لرو لکه چی مونږ دانتخا با تو په موده کی دخپل ستاد غړو ته ډالری معاش ورکول او غنی «احمدزی» دخپل ستاد غړو ته یواځی یوسوه افغانی ورکول : په هرصورت لمر په ګوتو نه پټیږی اوهغه داچی ټول اشرار اوهغه ټول افغانی قاتلان سره ټول شوی او هریو ډاریږی چی که چیری (غنی احمدزی) جمهور ریس شی او په دی لټه کی شی چی ځانته یو سیاسیی تشکیل جوړ کړی اوپه دی سیاسیی تشکیل کی ځنی دموکرات قوتونه سره راټول کړی اوپه اردوکی نفوذ وکړی نه چی داشرارو حلقی اوقوماندانان دخلک محکمی ته را کش نکړی اودهغه دارای اوشتمنی مصادره نکړی خبر بلکل همدغسی دی ، که نه عبدالله عبدالله د جهاد په وخت کی دامرالله صالح سره یوځای دشوروی اتحاد او د پا کستان په پیسو ځان چلول اودآمر صاحب ددروازی هغه نمک حرام نوکران وه چی دپیسو په بدل کی آمرصاحب یی هم ووژل . په هرصورت عبدالله عبدالله اودهغه ټول پلویان په دی ښه پوهیږی چی په انتخاباتو کی تقلب کړی دی لکه چی دهغه رقیب «غنی احمد زی » به هم خامخا تقلب کړی وی مګر د عبدالله عبدالله بغاوت او نارضا یتی ددی خاطره دی چی که چیری دامریکی د متحده ایالاتو په مینځګړیتوب سره یوڅه مادی ، معنوی اوسا سیی امتیاز تر لاسه کړی او د امریکی متحده ایالات هم هک اوپک دی چی د دومره ډالرونو په لګښت سره ونشو کړی چی خپل نانځکی اشرار او مجاهد رام کړی ، اوس امریکا ډیر پیښمان دی چی ای کاشکی می دغه تیښتید لی اشرار اومجاهد ین د افغانستان په لوړو چوکیو کی نه ګمارل او یا کاشکی می دغه اشرارسره مرسته نه وای کړی اوس امریکی خپل خلکو ته څه ووای نوپه دی بنیاد امریکی مجبور دی چی دوی ته باج ورکړی اووضع په نیمګړی بڼی سره آرام کړی ، اوغیر له هغه امریکا مجبور دی چی افغانستان کی ملوکوطوابفی حکومتونه دخپل پالیسی دتعقیب اوددنبال دپاره جوړکړی یا افغا نستان لکه دیوګوسلاویا په څیر په ځو برخو وویښی .

ځما خطاب تاسو افغانی روشنفکرانو ته دادی : چی زمونږ هیواد دهمدغو اشرار و په پالسی سره ډیر حسا س پړاو ته داخل شوی او په یو جرقه کی خدای دی ونکړی اور اخلی ، قلمونه تیره کړی ، له ټولو وطنپرستو افغانانو څخه وغواړی چی هیواد له دی بن بست څخه خلاص کړی او هیڅا ته حق مه ورکوی چی په درواغو سره دافغانستان

دځوریدلی ملت استاذ یتوب وکړی ، تاریخ ټول مسولیتونه د تاسو پرغاړه اچولی دی ، صفونه سره نژدی کړی او د افغانستان واقیعتونه خپل خلکو ته څرګند کړی .
په درناوی .